دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

# شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

### الهی فرمان

ای مؤمنانو! پر تاسو روژې فرض کړي شوي دي لکه چې له تاسونه پرمخکنیو امتونو فرض کړې شوي وه تر څو پرهیزگاران شئ. د روژې ورځې په شمار دي، هر څوک چې له تاسونه په دغو ورځو کې ناروغ شي او یا په سفر کې وي نو په نورو ورځو کې دې دغه پاتې روژې ونیسي. (سورة البقره)

### نبوي ارشاد

له حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
روژه او قرآن کریم د قیامت په ورځ د بنده لپاره شفاعت کوي، روژه خپل رب ته وایي: ای ربه! بیشکه ما دغه روژه نیوونکی تولہ ورځ له خوراک څښاک او دده د نورو خوښې خیزونو څخه منع کړی و، نو ددې په حق کې زما شفاعت ومنه، قرآن کریم خپل رب ته وایي: ای ربه! ما دې د شپې له خوبه بند کړی و تر څو تهجد لمونځونه وکړي او قرآن کریم ولولي نو دده په حق کې زما شفاعت ومنه. نو الله تعالی ددوی دواړو شفاعت پخپل دربار کې مني. (مشکوة)

شهادت دویم کال، ۷۲ مه گڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د وږی ۳ مه د۱۴۳۱ هـ ق د رمضان المبارک ۱۵ مه د۲۰۱۰ م د آگست ۲۵ مه

# پاکستان متجاوز اصلی در جنگ افغانستان است "سپنتا"

PROPERTY OF ACKU

امریکا رسانه ها:
رنگین دادفر سپنتا، مشاور امنیت ملی رییس جمهور افغانستان، مقاله، تحت عنوان "پاکستان متجاوز اصلی جنگ افغانستان است" نوشته که در روزنامهء واشنگتن پوست، به چاپ رسیده است.

در این مقاله سپنتا در مورد چگونگی جنگ ایتلاف بین المللی در افغانستان اشاره کرده، گفته است که جامعهء جهانی به خاطر تامین منافع منطقه ای و بین المللی به مداخله نظامی در افغانستان توافق کردند و آن را از طریق شورای امنیت سازمان ملل متحد مشروعیت دادند.

سپنتا همچنین گفته است که مردم افغانستان که از استبداد رژیم طالبان، حضور شبکهء القاعده اربابی جنرالان پاکستانی در عذاب بودند، از عملیات نظامی ایتلاف بین المللی استقبال کردند.

بعد از مداخلهء جامعهء جهانی، به گفتهء سپنتا، پیشرفت های در عرصه های معارف، صحت و حقوق مدنی درافغانستان به دست آمد، ولی حملات تروریستی، همهء این دست آورد ها تحت شعاع قرار داده است.

بقیه در صفحه ۴

# فاسد کسان له کابینې څخه لوړ دي "وحید عمر"

د ولسمشر حامد کرزي ویاند وایي چې په فساد ککړ کسان د ولسمشر کرزي له کابینې څخه لوړ دي.

د ولسمشر ویاند وحید عمر په فساد ککړ کسان د افغانستان د سیاست کونکو یوه جبهه وبلله، او ویې ویل چې ډیری پیسې یاد شوي کسان د بهرنیو قراردادونو څخه لاس ته راوړي.

د دې سره سره چې د ولسمشر ویاند ځانگړي کس نوم نه اخلي خو وایي چې ډیری فساد د قراردادونو له لارې کیږي.

د ولسمشر ویاند وحید عمر وویل: له دې انکار نه کوو چې زموږ یو شمیر سیاسون په فساد ککړ دي او هغه پیسې چې په تیرو کلونو کې افغانستان ته راغلي دي څنې کسان د څینو کسانو په وژل کیدو د میلیونونو ډالرو خاوندان شوي دي.

د اقتصادي مافیا په اړه د ولسمشر حامد کرزي ویاند وایې چې لاس به یې په افغانستان کې لنډ کړي.

نوموړ وایي چې د افغانستان په سلگونو ملیونه ډالر داسې کسانو جیب ته اچولې چې ټوله ټټه یې محدود کسان اخلي په داسې حال کې چې ډیری افغانان په ډیر بد حالت کې ژوند کوي.

نوموړي همدا راز دا هم وویل چې له افغان دولت سره مرسته شوي په سلو کې شل ډالر افغان دولت او پاتې نور په خپله بهرنیان لگوي.

وحید عمر وویل چې اقتصادي مافیا هغه کسان دي چې د نړیوالي ټولنې قرار دادونه یې نیولي، شخصي امنیتي کمپنۍ او لوژستیکي شرکتونه لري، موږ وینو چې په تیرو څو کلونو کې داسې ځوانانو د سلگونو ملیونو ډالرو خاوندان دي چې عمرونه یې یوازې دیرش او یا هم دوه دیرش کاله دی. دا مسله له افغانانو پټه نه ده ، افغان حکومت دا مني چې یوه برخه فساد په حکومتي نظام کې شته او حکومت

پاتې ۴ مخ

# شمار تلفات نظامی فرانسه در افغانستان به ۴۷ نفر رسید

خبر گزاري فارس:
با کشته شدن دو نظامي فرانسوي در جریان درگیری در شمال شرق کابل، شمار نظامیان فرانسوی کشته شده در افغانستان به ۴۷ نفر رسید.

به نقل از روزنامه فرانسوي "فیگارو"، با کشته شدن این نظامیان فرانسوي، شمار نظامیان فرانسوي کشته شده در افغانستان از سال ۲۰۰۱ یعني از ابتداي حضور آنها در این کشور تاکنون به ۴۵ تن رسید.

بنا بر اعلام وزارت دفاع فرانسه، دو نظامي فرانسوي امروز در جریان یک درگیري در جنوب ولایت "تگاب" واقع در شمال شرق کابل کشته شدند و سه نظامی نیز به شدت مجروح شدند.

بنا بر این گزارش، با کشته شدن این نظامی فرانسوی، شمار تلفات نظامي فرانسه در افغانستان از زمان استقرار نظامیان این کشور در افغانستان در سال ۲۰۰۱ تاکنون، به ۴۷ نفر رسیده است.

فرانسه به عنوان چهارمین مشارکت کننده و تأمین کننده نیروي نظامي در جنگ افغانستان در حال حاضر سه هزار و ۵۰۰ نظامي خود را در افغانستان مستقر کرده است.

در پي کشته شدن این نظامي، "نیکلا

پاتې ۴ مخ

# د افغان ځواکونو له لیکو څخه تېښته او بې سوادي یوه لویه ستونزه ده "امریکا"

آزادی راډیو:
د امریکا یوجگپوړی پوځي مقام د افغان ځواکونو له لیکو څخه تېښته او د سرتېرو بې سوادي هغه لویه ستونزه بولي چې افغانستان ورسره مخامخ دی. ډگرجنرال ویلیم کالډویل چې د ناټو له خوا د افغان ځواکونو د روزنې مسوول مقام دی تیره ورځ په دې اړه له کابله د ویډیو- کنفرانس له لارې د امریکا په دفاع وزارت کې خبریالانو ته معلومات ورکول.

ډگرجنرال ویلیم کالډویل چې د افغان ځواکونو د روزنې لپاره د ناټو د پروگرام مشري کوي وایي، د افغانستان د ملي اردو او پولیسو په لیکو کې بې سوادي او د سرتېرو تېښته دا معنا لري چې د ۲۰۱۱ کال تر پایه پورې باید کار وشي څو افغان ځواکونه په ډېرو برخو کې د مسوولیتونو اخیستو ته چمتو شي. ...

پاتې ۴ مخ

# امریکا په افغانستان کې درې لویې اډې جوړوي

تاند ویب پاڼه:
امریکا په افغانستان کې پر دریو هوایي اډو په سلگونو ملیون ډالره لگوي. دا درې اډې د افغانستان په جنوب، شمال اولویدیځ کې دي.
واشنگټن پوسټ ورځپاڼې د دې مطلب د

پاتې ۴ مخ

# خلص سوانح محترم عبدالجبار "شلگری"

صفحه دوم

کاندید مستقل ولسی جرگه ولایت غزنی

# سرباز اسیر شدهٔ امریکایی در افغانستان به طالبان تعلیم میدهد

خبر گزاری ریا نووستی:
افراد مسلح طالبان و همچنان استخبارات افغانستان خبر میدهند که باو روبریت بیر گدال سرباز عادی ۲۴ ساله امریکایی که در سال ۲۰۰۹ به اسارت گرفته شده، در حال حاضر به طالبان ساختن بمب و حمله از کمین اموزش میدهد. قرار معلومات انها، بیر گدال - یگانه سرباز امریکایی که افراد مسلح افغان به اسارت گرفته- به دین اسلام مشرف شده و به او نام عبدالله داده شده است. در این باره روزنامه انگلیسی The Sunday Times در روز یکشنبه نوشته است.

ناجی ندیم معاون قوماندان طالبان در ولایت پکتیکا، جای که بیر گدال به اسارت گرفته شده بود در مصاحبه تیلفونی معلومات داد که امریکایی به او باز نمودن تیلفون موبایل و ساختن اله ریموت کنترول برای هدایت بمب های کار گذاری شده در راه ها از پرزه جات تیلفون یاد داده است. قوماندان افراد مسلح گفت که اکثر چیزهای که بیر گدال به انها معلومات داده طالبان قبلاً یاد داشتند.

بقیه در صفحه ۴

# کورنیو چارو وزارت د امنیتي کمپنیو د ټرولو پروسه په رسمي توگه پیلوي

فرانس پریس:
د افغانستان د جمهوري ریاست له خوا په خپره شوې اعلامیه کې کورنیو چارو وزارت ته دنده سپارل شوې ده، چې په رسمي توگه په هیواد کې د خصوصي امنیتي کمپنیو د ټرلو پروسه پیل کړي.

د فرانس پرېس په وینا په دې برخه کې به له ټولو کمپنیو سره یو شان چلند کیږي او دا پروسه به لومړی په هغو امنیتي کمپنیو عملي کیږي چې له دولت سره راجستر نه دي.

د ولسمشر حامد کرزي د سې شنبې د ورځې د فرمان پر اساس ټولې داخلي او بهرنې خصوصي امنیتي کمپنۍ باید د راتلونکي ۲۰۱۱ میلادي کال د جنوري میاشت تر لومړۍ نیټې پورې بندې شي.

په افغانستان کې دا مهال فعالې امنیتي کمپنۍ د نړیوالو ځواکونو د کاروانونو، د بهرنیو ډیپلوماټانو، موسسو، د ملگرو ملتونو د ماموریت

پاتې ۴ مخ

# د امریکا په مشرۍ د جگړې هڅې امید بخښونکي دي "جوبایډن"

آزادی راډیو:
د امریکا د ولسمشر مرستیال جوبایډن وایي، چې په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ د جگړې هڅې امید بخښونکې دي او دا به له وخته مخکې قضاوت وي چې وویل شي دغه هڅې ناکامه دي.
بایډن د انډیانا د ایالت په (انډیانا پولیس) کې

پاتې ۴ مخ

# هندوستان دې پخپل حد کې واوسي

دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# د رأی اهمیت او پر ځای استعمال یې

رأی د ملت لوی امانت دی، رأی دې له پاره اچول کیږي چې ولسي جرګې ته ولاړ په ګڼو کاندیدانو کې تر ټولو ښه او غوره شخص پارلمان ته ولیږي، ځکه د اولس رأی سرنوشت ټاکوونکي او مهم رول لري. هغه ولسي جرګه د ولس د ارادو او ارمانونو ممثله قانوني جرګه ګڼل کیږي چې د ولسونو د مستقیمو او شفافو ټاکنو په صورت کې منځ ته راغلې وي، او دداسې قانوني او منتخبې ولسي جرګې پریکړې او فیصلې د ولس پریکړې بلل کیږي.

که ولس واقعاً غواړي چې دهغوی غوښتنې او ارادې په خپل هېواد کې عملي بڼه خپله کړي او دهغوی د خوښې مطابق د هېواد په ټولو ادارو او سکتورونو کې مثبت او اغیزمن بدلون رامنځ ته شي نو د سالم او شفاف ټاکنو پر ته دا کار نشي کیدلې، د ولس رأی په حقیقت کې دهغوی فصل دی، هر څوک چې پخپل زمکه کې څڼګه تخم وکري همغسی فصل به ترلاسه کوي.

امانت دارو، دیانتدارو، پرهیز ګارو، زیرکو، له اسلام، هېواد، استقلال او ولس سره مینه لروونکو اشخاصو ته رأی ورکول داسې مثال لري لکه چې پخپل پټي کې تر ټولو ښه فصل یې کرلې وي او د خپل ددغه کار له کبله ښه ګټه اوچتوي، ددې برعکس خائن، بد دیانت، فاسق، جاهل، بی دین، غلام، ددین او خاورې دښمنانو ته رأی ورکول په حقیقت کې پخپل پټي کې د اغزي تخم کرل دی چې له اغزي پرته بله هیڅ ګټه ترینه نشي ترلاسه کولې، نه به ورته میوه ورکوي او نه به هم نور څه ګټه ترې اوچتولې شي، که پکې ګرځي نو پښو کې به یې خي او که لاس ورته وروړي نو ګوتې به ورته سورې کوي، هغه به له خپلې ملامتیا پرته پر بل چا ملامتي نشي اچولې بلکې همدا به وایي چې څه مې کرلې دی همغه ریبم.

په یو اسلامي هېواد کې پکار خو دا وچې یواځې داسې اشخاصو ته ولسي جرګې ته د خپل ځان کاندیدولو اجازه ورکول شی وای چې هغه د اسلام په تله کې کره په تول برابر وای، هغه شرائط او مواصفات پکې موجود وای چې د ولس د وکیل کېدو او نماینده جوړیدو لپاره خورا ضروري دي، خو ډېر افسوس چې د ټاکنو په دې بهیر کې هرچاته یو برابر حیثیت ورکول شوې دی او هر یو بریت تاووي چې زه د ولس د نمایندګی تر ټولو زیات مستحق یم. له بده مرغه بیچاره ولس هم د رأیو او ټاکنو په ارزښت چنداني نه پوهیږي، په تېرو ټاکنو کې ما پخپلو سترګو لیدلي دی چې هغوی په دې هم نه دي پوه شوي چې خپله رأی یې کوم کاندید ته ورکړی ځکه چې هلته د صندوق څنګ ته ولاړ خرڅ شوی مسؤول له هغه نه د رأی پرچه اخستې او د خپل خوښ بادار ته یې اچولی دی، د افغانستان زیاتره رأی ورکوونکی د خپلې رأی په صحیح استعمال نه پوهیږي او نه هم په دې پوهیږي چې د رأی ورکولو لپاره له کومو مراحلو نه تېرېدل غواړي؟!

لنډه دا چې تر اوسه په افغانستان کې ټاکنې داسې ترسره کیږي لکه چې یو وړوند سړی د خپل باغ پر ځای د بل چا باغ اوبه خور کړي او خوشاله وي چې خپل باغ ته یې اوبه ورکړې دي.

که دولت غواړي چې ولسي جرګې ته واقعاً د ولس منتخب ارکان راشي نو بیا د ټاکنو ټول هغه اصول، ضوابط او شرایط دی هم برابر کړي چې د شفافو ټاکنو لپاره خورا اړین دي.

راډیو، تلویزیون، ورځپاڼو او نورو رسنیو له لارې دې ولس ته هغه لارې چارې ورزده کړي چې رأی ورکوونکی د خپلې خوښې کاندید ته په رأی اچولو کې بریالی شي.

د افغانستان په زیاترو ځایونو کې دا هم تر سترګو کیږي چې هلته رأی ته په بازار کې د یو خرڅېدونکي څیز په څېر کتل کیږي، ډېرې خلک په وازه کومه همدا خبره کوي چې زما رأی دهغه چا ده چې ډېرې پیسې راته راکړي؛ هغوی فکر کوي چې د رأی کارت هم د خرڅېدو او پیسو دترلاسه کولو یوه آله ده، هغوی په دې نه دی خبر چې یو چاته رأی ورکول په حقیقت کې د خپل ځان اولاد او خاورې ته د یو داسې امین او صادق څوکیدار غوره کول دي چې په هر حالت کې ورسره ټګي ونکړي.

زما په عقیده که ملت د خپلې رأی په قدر او قیمت پوه شي او هر چاته دا معلومه شي چې دهغه رأی دهغه د خوښې مطابق په هېواد کې د یو سالم نظام او سالم اسلامي حکومت د جوړیدو لپاره بنسټیز رول لري نو ګمان نه کوم چې څوک دې خپله رأی د څو روپو په بدل کې خرڅ کړي. ډېر افسوس! ټاکنې خو ترسره کیږي مګر نوي په سلو کې وګړي ددغو ټاکنو په اصل مفهوم او مقصد نه پوهیږي.

که د رأی په ارزښت او قیمت ژور نظر واچوو نو دا په حقیقت کې د هر افغان د ایمان، غیرت، عقیدې او ضمیر آواز دی، له اسلام، هېواد او ولس سره رښتونی مینه لرونکی افغان هر ګز دا نه شي زغملی چې خپل ایمان، غیرت، عقیده او ضمیر په دومره بې قدری سره خرڅ کړي.

راځئ په ګډه خپل رأی صحیح او پر ځای استعمال کړو هغه ځانګه غوځ نه کړو چې وربانديې ناست یو او په دې توګه د خپل هلاکت سامان پخپله برابر کړو.

# خلص سوانح محترم عبدالجبار "شلگری"

عبدالجبار "شلگری" فرزند عبدالعلیم خان ساکن الاصل ولسوالی اندر ولایت غزنی در سال ۱۳۳۳ هـ ش در منطقه شلگر پا به عرصه وجود گذاشت. تعلیمات ابتدایی و ثانوی خویش را در لیسه سلطان شهاب الدین سال ۱۳۵۱ به سویه بکلوریا به پایان رسانید، بعد از اتمام دوره تعلیمی خویش بصفت مامور در مربوطات وزارت آب و برق مقرر و وظیفه محوله را به حسن صورت انجام داده، از آنجا تبدیل و در یکی از بخش های وزارت زراعت توظیف گردید. عبدالجبار "شلگری" از اینکه یکتن از پیشتازان نهضت اسلامی چهره معروف و شناخته شده در منطقه خویش بود، از اینکه قبلاً وابستگان خلق و پرچم در ادارات دولتی افکار و اندیشه وی درک کرده بودند، با آمدن کودتای ننگین (۷) ثور در ماه سرطان ۱۳۵۷ از طرف ایادی کمونیزم گرفتار و روانه زندان گردید، با فشارها و شکنجه هائیکه بالای وی وارد آوردند، قامت خم ننموده و دشمن نتواست که از رازهای درونی وی چیزی را بدست آورد بالاخره بعد از سپری نمودن شش ماه زندان از حبس رها، و دوباره با اشتیاق کامل وارد میدان مبارزه و جهاد گردید.

مامور جبار معروف به "شلگری" در جبهات گرم ولایت غزنی، پکتیکا و وردگ بصفت یک قوماندان، آگاه و ایشارگر در برابر دشمنان اسلام و وطن مردانه رزمید و سنگرهای مستحکم و قله های تسخیر ناپذیر ایشانرا یکی پی دیگر فتح نمود، وظایف جهادی خویش را تا پیروزی حکومت مجاهدین و پایان نظام کمونیستی در افغانستان در شفافیت و شایستگی ادامه داد. بعد از پیروزی نظام اسلامی در افغانستان منحیث یک داعی و تلاشگر بخاطر استحکام پایه های حکومت اسلامی باقیماند. با به وجود آمدن حکومت موقت و تدویر دو لویه جرگه عنعنوی اضطراری و لویه جرگه قانون اساسی بصفت نماینده مردم غزنی اشتراک ورزید. و مدت را بصفت معاون ریاست پروژه بند سرده اجرائی وظیفه نمود.

"شلگری" از اینکه علاقه مفرط خدمت بوطن و مردم ستمدیده خویش داشت، در انتخابات قبلی پارلمان پیروز و بصفت وکیل و نماینده مردم غزنی به خانه ملت راه یافت. در انتخابات کمیته های پارلمانی به اتفاق آرا به حیث رئیس کمیسیون سمع و شکایات ولسی جرگه انتخاب گردید. که وظیفه سپرده شده را بطور شفاف و عادلانه انجام داد.

شلگری در طول پنج سال گذشته در برابر مظالم، جنایات و کشتار مردم بی گناه در پارلمان کشور ایستاده گی نموده و در دفاع از حقوق مردم بیگناه در کشورهای اسلامی خاموش نه نشسته و اولین صدا را در دفاع از نوامیس ملی و ارشادات دینی ما در پارلمان کشور بلند نموده. تبلیغات و نشرات ضد اسلامی و اخلاقی رسانه ها همیشه مورد انتقاد شدید برادر شلگری واقع شده و در این راستا مسؤولیت اسلامی و جهادی خود را ادا نموده است.

عبدالجبار "شلگری" بخاطریکه دوباره از طرف مردم مجاهد، شهید پرور و دلیر ولایت غزنی به ولسی جرگه کاندید گردیده از تمام هموطنان خویش بخصوص ولایت غزنی و برادران حزب اسلامی آن دیار تقاضا دارد. تا بخاطر پیروزی شان در مبارزات انتخاباتی از یک رأی خویش هم دریغ نورزند. تا بتواند این کاندید منتخب و مورد نظر شان به پارلمان بزرگ افغانستان راه یابد و خدمات سترگ و شایسته را برای موکلین و مردم ستمدیده خویش انجام دهد. و از سنگر خانه ملت بر تمام مشکلات و نارسایی های جامعه ما فایق آید. بخاطر تطبیق قوانین شرعی و نافذه در کشور و همچنان نظارت بر اعمال حکومت و وضع قوانین جدید در پرتو دین از شما نمایندگی و حمایت نمایند. فراموش نکنید برادر تان شلگری را رأی بدهید.

(ومن الله التوفیق)

# افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

*نړېوالو ورځپاڼو هر یو شیکاګو تریبیون او نیوزویک په خپلو وروستیو ګڼو کې د افغانستان په اړه ببلابېل مطالب او تحلیلونه خپاره کړي چې د شهادت درنو لوستونکو ته یې وړاندې کوو.*

**شیکاګو تریبیون:**

شیکاګو تریبیون ورځپاڼې په خپله وروستۍ ګڼه کې پترایوس د افغانستان پرستراتیژۍ شک کوي، تر سر لیلک لاندې یوه مقاله خپره کړې چې د پیل په کرښو کې یې لیکي:

په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال ډیویډ پترایوس په وروستیو کې د عامه اړیکو په برخه کې هلې ځلې پیل کړي او له دې لارې غواړي امریکایانو ته قناعت ورکړي چې امریکا باید په افغانستان کې پاتې شي نه دا چې له دې هېواده د وتلو په اړه د ولسمشر بارک اوباما د ژمنې ملاتړ وکړي.

اوباما له دې هېواده د امریکایي ځواکونو د وتلو د پروسې د پیل لپاره د راتلونکي میلادي کال جولای میاشت ټاکلی ده.

ورځپاڼه لیکي، ډېر غیر پوځي څارونکي په دې باور دي چې د افغانستان جګړه به هغسې چې لازمه ده ونه ګټل شي.

ځکه دوي په دې هم پوه دي چې د افغانستان د جګړې د ګټلو لپاره په دې هېواد کې له پوځي بریې پرته په نورو برخو کې هم پرمختګونو ته اړتیا ده.

د شیکاګو تریبیون په وینا د افغانستان د امن راوستو لپاره امریکا دی ته اړتیا لري چې ښه حکومت داری رامنځته کړي او اقتصاد ته وده ورکړي.

د ورځپاڼې په وینا واشنګټن په دې برخه کې تر اوسه ناکامه شوی دی، خو په هرصورت جنرال پترایوس غواړي د امریکایانو باور

ترلاسه کړي چې د دغې جګړې لوری بدلیدای شي که مونږ د هغه ستراتیژۍ ته زیات وخت ورکړو، ځواکونه او پیسې ورکړو.

د شیکاګو تریبیون په وینا پترایوس له دې لارې غواړي چې خپل هغه حیثیت او اعتبار وازموي چې په ۲۰۰۷ کال کې په عراق کې د ځواکونو په زیاتېدو سره د جګړې د مسیر د بدلولو په خاطر ده ته ورکړل شوی دی.

**نیوزویک:**

هغه تصاویر چې ویل کیږي په واشنګټن کې د افغانستان په سفارت کې د ساز او نڅا جریان ښیي، روانه اونۍ په یوې افغاني ویب پاڼه کې خپاره شول.

ادعا شوې چې دغه تصاویر د هغه محفل جریان ښیي چې د روژې د مبارکې میاشتې په جریان کې په واشنګټن کې د افغانستان په سفارت کې ترتیب شوی وو او ګډون کونکو یې له الکولي مشروباتو څخه استفاده کړې ده.

نیوزویک مجله لیکي، دغو تصاویرو د افغانستان د ولسي جرګې غړي ډېر په قار کړي او دوي په واشنګټن کې د افغانستان د سفیر سید طیب جواد د فوري استعفا غوښتنه کړې ده.

نیوزویک د ولسي جرګې د لومړي منشي عبدالستار خواصي له قوله لیکي چې وایي، ښاغلي سفیر، تاسو له انجونو او د شرابو له ګیلاسونو سره نڅا کوی په داسې حال کې چې خلک په افغانستان کې د وینو په سیلاب کې غوټې وهي،په همدې حال کې سید طیب جواد دغه ادعاوې رد کړې او دغه تصاویر یې غیر حقیقي بللي دي،ښاغلي جواد ویلي چې دغه تصاویر یا زاړه دي او یا هم جعلي.

د سید طیب جواد په وینا یو شمېر دغه تصاویر یو کال مخکې د افغانستان د خپلواکۍ د محفل له جریانه اخیستل شوی چې په کې شاوخوا ۶۰۰ کسانو ګډون کړی وو.

محمد خلیل

# هندوستان دې پخپل حد کې واوسي

له دې واقعیت نه هېڅوک انکار نشي کولې چې له کومې ورځې له افغانستان نه روسي یرغلگر پوځونه وتلي له همغې ورځې نه تر ننه پورې هندوستان او پاکستان په افغانستان کې د خپلو گټو جگړه تنده کړی ده، هندوستان هڅه کوي چې په افغانستان کې د خپل اثر او نفوذ په زیاتولو د افغانستان خاوره او اوسیدونکی یې د هندوستان په گټه استعمال کړي. که د پاکستان او افغانستان ولسونه د دښمنۍ تر پولو ونه رسوي لږ تر لږه د بې باوری پولو ته خو ضرور ورسوي، تر څو لدې لاری وکولې شي د افغانستان خاوره د پاکستان پرخلاف د خپلو اهدافو او مقاصدو دترلاسه کولو لپاره وکاروي، څرگنده خبره ده چې پاکستان د هندوستان ددغه ناروا هلو ځلو په وړاندې چوپه خوله نشي کېناستلې او نه هم دومره کمزوری دی چې د هندوستان ددغو هلو ځلو په وړاندې خنډان ورنخوي او لاچاره لاس تر زنې غلې کېني.

دا سمه ده چې د پاکستان له جوړیدو نه تر ننه د پاکستان او هندوستان ترمنځ د کشمیر په سر اړیکې ترینگلی دي او دوه درې ځلي لوی لوی جنگونه یې هم ترسره کړي دي، مگر د هندوستان دا هڅې چې پر پاکستان د برلاسي په مقصد د افغانستان خاوره هم د هندوستان په گټه استعماله کړي د منلو نه دي، افغانستان یو مستقل آزاد تاریخی هېواد دی او هېچاته دا حق نه ورکوي چې په دې هېواد کې د خپل غرض آسونه چاغ کړي.

لومړی خو باید دواړه هېوادونه خپل منځي اختلافات د خبرو اترو له لارې حل او فصل کړي او څومره ژر کیدلې شي د خپلو ولسونو لپاره د امن فضاء برابره کړي، که بیا هم د جنگ شوق یې نه وي پوره شوې او د یو د بل د پرزولو او یا هم د کمزوری کولو قسم یې خوړلې وي نو بیا دې خپل دغه جنگ تر افغانستانه نه غځوي. ددې ځای ولس د دریو لسیزو راهیسې د جنگ په لمبو کې سوځیدلي او اوس هم عملاً د جنگ په سرو لمبو کې ژوند تیروي، افغانان نور له جنگ نه ستړي او امن ته لیواله دي. هندوستان نه ښۍ چې په افغانستان کې د خپل اثر او نفوذ د زیاتولو او خپلو ذاتي گټو د تأمینولو په خاطر د افغانستان د جنگ ځپلی اولس دردونه او کړاوونه نور هم زیات کړي، ځکه چې په دې صورت کې پاکستان هم د هندوستان ددغه اقدام په خلاف د رقابت میدان ته راداڼگي او په دې توگه د افغانستان استحکام او سلامتیا نور هم له گواښ سره مخامخ کیږي.

د افغانستان له کړیدلي ملت سره دا دوستي نه ده چې څوک دې د دوستي تر نامه لاندې په دغه هېواد کې د خپلو مفاداتو جگړه گرمه کړي.

د هندوستان دا بې ځای وهم د افغانانو له پاره بالکل د منلو نه دی چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ د گاونډیتوب د ښو اړیکو په صورت کې هندوستان ته تاوان رسیږي. دا دغه یو بې ځای دلیل دی چې له وهم پرته ورته بل هیڅ نشي ویل کیدی.

افغانستان او پاکستان نه یواځې دا چې دوه گاونډی هېوادونه دي بلکې زیاتره اوسیدونکی یې پخپلو کې د ورورولۍ او خپلولۍ نژدی اړیکی هم لري چې شلیدل یې ممکن نه دي. آخر داسې دوه نږدې ورور گاونډي هېوادونه څنگه کولې شي چې د هندوستان دمفاداتو په خاطر د یو بل گریوان ته لاس واچوي.

هندي چارواکی دی دا ومني چې څرنگه هغوی ته خپل مفادات مهم دي همداسې افغانانو ته هم خپل مفادات گران دي، که هندوستان د انسانانو په توگه د خپلو مفاداتو د ساتلو حق لري نو افغانستان ولس هم د انسان په توگه مجبور دی چې د خپلو گټو خیال وساتي آخر څه جامد مخلوق نه دی چې بل څوک یې د ځان په گټه استعمال کړي.

د افغانستان وگړي هرگز دا نه خوښوي چې د هندوستان او گاونډیو هېوادو په شمول نور هېوادونه د افغانانو د مجبوریت نه ناروا گټه اوچته کړي او یا هم د خپلو د مفاداتو د جگړی لمنه تر افغانستانه وغځوي. افغانستان له څه شک پرته له گردی نړۍ سره دوستانه اړیکی غواړي، په ځانگړی توگه له خپلو گاونډیو هېوادو سره داسې تل پاتې او ټینگو اړیکو د ساتلو هیله من دی چې په هر مشکل وخت کې د یو بل په کار راشي.

د گاونډیو هېوادو په شمول هندوستان او ددې سیمې نورو هېوادو گټه په دې کې ده چې افغانستان د امن په کور بدل شي، دلته مضبوط حکومت او مضبوط نظام حاکم شي، د نورو له لاس وهنې او مداخلې نه نجات بیا ومومي، اوسیدونکی یې پخپلو پښو ودریږي، په دفاعي لحاظ دومره غښتلې شي چې بیا لپاره ورباندې څوک د یرغل کولو جرئت ونه کړي.

اوس زمانه بدله شویده، ساینس ډېر پرمختگ کړیدې د ژوند معیارونه بدل شویدي، هېڅوک نشي کولې چې د جگړی له لارې د نورو حقوق غصب کړي، ډېر وړاندې به نه خو د تېرو دیرشو کلو په حالاتو به نظر واچوو، هغه شوروي اتحاد چې پر افغانستان له پوځي یرغل وړاندې په هر څه کې تقریباً خود کفا و پر افغانستان له یرغل وروسته تجزیه او پخپلو سیالانو کې ډېر وروسته پاتې شو. همدغه راز د تیرو نهو کلو راهیسې د امریکا په مشرۍ ناټو هېوادو په افغانستان کې له ځاني مالي پوځي او سیاسي نقصان پرته بل هیڅ گټه نه ده کړی. که د ناټو غښتلی پوځي بلاک په افغانستان کې څه گټه ترلاسه نکړی شوه نو هندوستان، پاکستان، ایران او نور گاونډیان به په افغانستان کې له تاوان پرته څه گټه وکړي؟ ! آیا دا به ښه نه وي چې د هندوستان په شمول نور گاونډی هېوادونه د تاریخي حقایقو په رڼا کې دا واقعیت ومني چې په اوسنی عصر کې گټې یواځې او یواځې د دوستی د مخلصانه اړیکو له لارې ترلاسه کیدلې شي نه د جنگ جگړو د لارې. افغانان د انسان دوستي او متقابله احترام په بنیاد د نړۍ هر هېواد سره اړیکو ټینگولو ته لاس اوږدوي مگر ددې اجازه هېچاته نه ورکوي چې له نورو هېوادو سره د گټو جگړه دې افغانستان ته منتقله کړي، دوی دې دا خبره په یاد وساتي چې که په افغانستان کې د امن تأمینولو په لړ کې له افغانانو سره مرسته ونکړي او برعکس په افغانستان کې د بدامنی اور ته لمنه ووهي نو د بدامنی دغه اور به یواځې افغانستان نه بلکې گاونډیان او د سیمې نور هېوادونه هم پخپلو لمبو کې راتاؤ کړي. نو ځکه د افغانانو مشوره ورته داده چې خدای لپاره زموږ پر ټپونو نور مالگه او مرچکی مه دوړه وئ، د خپلو پوځي، اقتصادي او سیمه ییزو مفاداتو جگړه د افغانستان خاوری ته مه دننه کوئ. ستاسې د ټولو گټه په دې کې ده چې افغانستان د امن زانگو شي. د مرحوم علامه اقبال خبره افغانستان د آسیا زړه ده، که دلته امن وي نو ټوله آسیا کې به امن وي او که دلته د جنگ او جگړی لمبی وي نو ټوله آسیا به د جنگ په لمبو کې سوځیږي، د آسیایي هېوادو لپاره به همدا ښه وي چې خپل آرامي او امن د افغانستان په امن کې ولټوي نه په جنگ کې.

## ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

پخوانی مذهب: عیسوي - د مملکت نوم: کاناډا

اسلامي نوم: عبدالرحمن

### د اسلام نه وړاندې زندگي راته بې مانا معلومیده

زما نوم عبدالرحمن د کاناډا اوسیدونکی یم د بصری له پوهنتونه مې د انجنیری په ځانگه کې زده کړی کړې اوس د تخنیکي انجنیر په توگه په فرم کې دنده اجرا کوم.

زه په یوې وړې کورنی کې ژوند کوم چې زما پرته مې دوه خویندې او مور و پلار دي زما د اسلام منلو ذریعه یوه داسې کورنی ده چې د هندوستانه انگلستان او بیا کاناډا ته راغلي او دلته ژوند کوي او دلته یې پېشه دوکانداري ده ددې کورنی د یو ځوان هلک سره زما انډیوالي شوه دې کورنی سره په بلدیدو کې په لومړي ځل زه پدې وپوهیدم چې اسلام څه شی دی پیغام یې څه دی ځکه په غرب کې د اسلام سم تصویر نه دی وړاندې شوی. د اسلام په هکله په غرب داسې تبلیغات کیږي چې اسلام د ترهگرۍ او وروسته پاتې والی دین دی.

ددې کورنی خلکو زه اسلام ته نه یم رابللې مگر د اسلام پیژندنې په لار کې یې زما تشویق او مرسته کړی.

ما د عیسویت او نورو مذهبي ډلو جایزه واخیسته خو د اسلام مطالعه زما لپاره ډېره په زړه پورې وه.

زما پلار چې یو عیسوي وه خو د مذهب سره یې تړاو ډیر کمزوری وه دې خبرې هم زه د اسلام مطالعې ته اړ کړم چې ولې عیسویان د خپل دین سره دومره بې علاقې دي او دا څنگه دین دی چې پیروان یې د دین پابند نه دي ما پدې هم ځان پوهوو چې غربیان او په ځانگړی توگه ددوی خبري رسنی ولې د اسلام دومره خلاف دي آیا رښتیا هم اسلام نیمگړی دین دي ! دې پوښتنو ته د ځواب لپاره مې د اسلامي مطالعې سره سره د قرآن کریم مطالعه هم پیل کړه او د قرآن کریم یوه نسخه ماته همدې هندیوالاصله کاناډایي کورنی راکړه د قرآن کري تر مطالعی وروسته دې پایلې ته ورسیدم چې دخالق او مخلوق ترمنځ تړاو څنگه رامنځته کیږي او په اسلام کې د موجودو مساواتو په لیدو حیران شوم پداسې حال کې چې دا ډول مفاهیم هغه وخت ښه نه شي معلومیدی تر څو چې څوک مسلمان نه وي دا د اوریدو او لوستو شۍ نه دي بلکې د محسوسیدو شی دي دا وخت ما د عبدالله یوسف علی د قرآن کریم ترجمه مطالعه کوله چې د بني اسرائیلو کیسه چې بایبل هم راخیستې او قرآن کریم هم بیان کړی.

خو دا کیسه چې قرآن کریم په کوم اغیزناک انداز بیان کړي نو دا یواځې د یو آسماني کتاب نشانه سره ښایي چې زه یې ډېر متأثر کړم په اسلام د ژوند فلسفه، مساوات او د کلتور اصل حقیقت ډېر روښانه دي د لازیاتو معلوماتو لپاره به مې زما د ملگري پلار چې یو ښه عملي مسلمان دي پنځه وخته لمونځ په پابندی سره ادا کوي معلومات غوښته ما به په ځینو خاصو مسایلو کې هم ددوی سره مشوره کوله او دا سلسله له ډېره وخته روانه وه، ده زه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ژونده د حق لور ته دعوت د مکې نه مدینې ته هجرت، او د مکې د فتحې له کیسو خبر کړم معلومات زما لپاره ډېر د قدر وړ وه او زما په علم کې یوه ارزښتمنه زیاتو نه وه چې زه یې د اسلام منلو ته تیار کړم.

تر دې وروسته زه د ښار یوې بلې څنډی ته لاړم چې هلته مې د یو پاکستاني مسلمان سره لیده وشو دهغې لمونځ کول مې زیات خوښ شو ددې په لمونځ لیدو مې پخپله هم د لمونځ کولو شوق پیدا شو او پر لمونځ کولو مې پیل وکړ هغه ماته ( towards understanding Islam) کتاب هم راکړ چې دهغې په لوستلو ما زیات معلومات ترلاسه کړه او زیات څه مې ترې زده کړه د حق موندنې وروسته نور نو هیڅ شی زما د اسلام منلو مانع نه وو.

ځکه چې زه تر دې وړاندې له خپلې کورنۍ بیل شوی وم چې زما د اسلام منلو مناع شي ما خپله کورنی ددې پرېکړی د تیلفون له لارې خبره کړه او د کورنی د غړو سره د لیدو پر مهال مې کوښښ وکړ چې هغوی اسلام منلو ته قانع کړم خو دهغوی هڅه دا وه چې زه پر خپله پریکړه بیا کتنه وکړم زما کورنی ویل چې دهیڅ دین نه منل درسره هم منو (لادینه) خو له اسلامه تیر شه عیسویت هم مه منه ما هغوی ته وویل چې زه اسلام ځکه منم چې د عیسویت نه مختلف دي او د قرآن کریم یوه نسخه مې هم ورکړه چې اوس یې مطالعه کوي زما یوه خور چې سیکولر ذهن لري دهغې سره مې هم خبرې وشوې په غرب کې دا قاعده ده که څوک مذهبي او روحاني احساس هم ولري خو د خپلې خوښی خاوند وي هغې راته وویل چې زه خو عبادت کومه خو د مریم مقدس ( استغفرالله) خو زما وړه خور چې ډېره مذهبي او سنجیده مزاج لري ما به چې کله دهغې سره خبرې کولې نو هغې به ډېر په غور اوریدې زما د مور رایه دا وه چې که اولادونه که مصدویدار منونکی وي او که خو اولادونه وي او ټول د خدای بندگان دی. داسې نه ده چې الله تعالی به دې ټولو ته هدایت کوي.

د اسلام منلو وړاندې چې زما د کومو خلکو سره اړیکې وي او هغوی به زه ولیدم نو د پخوانیو کړنو پر لور به یې بلنه راکوله.

خو ما به هغوی ته د اسلام دعوت ورکولو چې راځۍ اسلام ومنی اسلام د انسانیت د فلاح او بهبود دین دي د سکون دین دي او د خوشالی دین دي زما په څیر به خوشاله وسئ. زما د اسلام منلو تر ټولو زیاته خوشالي په هغه کورنی کې وه چې زما د هدایت سبب شوی وه.

زه به چې کله په نورو ښارو کې هم د دوستانو سره ملاویدم نو هغوی ته به مې د حقیقي مسلمان جوړیدو ویل خو هغوی به خپلې نیمگړتیاو وړاندې کولی د مسلمانیدو وروسته راته د عبادت رښتونی مطلب معلوم شو اوس زه د لمونځ په حقیقي فایدو او گټو فکر کوم او کوشش کوم چې د قرآن کریم او لمونځ په مانا پوه شم او څه چې له خولې اوباسم په هغې فکر کوم ځکه زه اوس پوهیږم چې د هرې ښی او بدی خبرې پوښتنه شته د خدای د عظمت او خپلې کمزوری یادونه کوم.

زما لپاره یواځې په غیرې اسلامي ممالکو کې د لمونځ د ادا کولو ستونزې وی او هغه دا چې د وقت پته سمه نه لگی او په اسلامي هېوادو کې د ستونزه حل وي.

د اسلام نه وړاندې ژوند مې بې مانا او بې مقصده وه د اسلام نه ناخبره خلک خپل ژوند په غلطو کارونو کې تیروي تفریح پر وخت د نشه یې توکو استفاده کوي چې

پاتی ٤ مخ

## شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال

مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ډیزاین: خواجه وحیدالله

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه


### د اسلام نه وړاندې زندګی ...

خپلې یو څو ګړی ښې تېرې کړي خو دا د حل لار نه ده په غرب کې خلک پدې خبره فکر کوي چې ژوند مقصد څه دی یواځې خوراک څښاک او عیاشي او که نور څه هم شته حال دا چې دا خبره الله جل جلاله ښه څرګنده کړي چې فرمايي:

((ما انسانان او پیریان د خپل عبادت لپاره پیدا کړی))

عبادت یواځې لمونځ او روژې ته نه وايي بلکې د ژوند هره ګړی کې د الله جل جلاله رضا په نظر کې نیول ټول ژوند عبادت دي.

او دا تصور په ذهن کې لرل چې زما د هر ښه او بد عمل بدله به الله جل جلاله راکوي کله چې د یو انسان په زړه او ذهن دا ډول پوښتنې پیدا شوي او هغې ته یې د عمل جامه واغوسته او خواهشات یې شاته کړه د انسان کامیاب دي په اسلام کې ټولنیز نظام ډېر ښکلی او حقیقت منونکی دي.

د الله جل جلاله چې د ژوند لپاره کوم حدود ټاکلی که له هغې تجاوز ونکړو د ژوند په هره سطحه کې به ژوند د سکون او ارام ژوندوي.

اسلام چې ښځو ته کوم مقام ورکړی هیڅ دین هم نه دی ورکړی که چېرې ښځی د اسلامي حقوقو تجاوز ونه کړي با عزته به وي نو پایله به یې هغه وي چې نن په غرب کې ښځی ورسره مخ دي د اسلامي لارښوونو نه سرغړونه به هر ځای کې دفساد پیدا کیدو سبب ګرځي دا وخت په غرب کې ښځې د یو ډول ذهني مرض ښکار دي بې بندو باره آزادي هم دوی پریشانه کړی څکه سکون پکې نشته د نرانو کارونه یې په خپله ذمه اخیستی او خپلې چارې هم ور په سر دي نه پوهیږي څه وکړي. که څانونه پټوي هم نه کیږي او که د څان نمایش کوي خو ژوند یې لا په خطر کې دي په آزادی کې پاتې کیدل ورته هغه څه ورکوي چې په هر حال کې د انسانیت سپکاوی دي.

خدای جل جلاله دې وکړي چې ټول انسانان او په ځانګړی توګه مسلمانان پدې پوهه شي چې د ښځو تباهي د انسانیت تباهي ده موږ پدې پوه شو چې شیطان د انسان ازلي دښمن دی او کوشش کوي چې انسان بې لارې کړي او زیان ورته ورسوي. د اسلام منلو وروسته ژوند کې دستو مسلمانان راته د عبدالرحمن په نامه غږ کوي او غیري مسلم چې ما له پخوا پیژني پخوانی نوم اخلي خو دا پدې هم ښه ده چې کله هغوی ته زما د مسلمانیدو پته ولګي نو د اسلام په هکله پلټنی کوي او دا فکر کوي چې اسلام ولې دومره په تیزی سره په غرب کې روان دي د پرمختګ سبب یې څه شی دي دوی اړ کیږي چې د اسلام مطالعه پیل کړي چې همدا مطالعه ددې لامل شي چې دوی اسلام ومني.

### پاکستان متجاوز اصلی در جنگ ...

به گفتهء سپنتا، شرایط جاری داخلی و بین المللی سبب سر در گمی شده که چگونه دوست و دشمن افغانستان را تشخیص داد.

سپنتا نوشته است که مردم افغانستان از فدا کاری و قربانی جامعهء بین المللی سپاس گذاراند، ولی استخبارات یکی از کشور های همسایه هنوز هم افغانستان را جز نفوذ خود تلقی می کند.

در این مقاله سپنتا نوشته است که با وجود تهدیدات تروریستی در داخل پاکستان، این کشور هنوز هم به شورای کویته و شبکهء القاعده پناه می دهد.

سپنتا افزوده است:

جامعه بین المللی در افغانستان حضور دارد تا شبکه های تروریستی را محو کند. ولی این تلاش ها با یک اشتباه و ناکامی استراتیژیک مواجه است، آن این که یکی از شرکای استراتیژیک در حقیقت تغذیه کنندهء گروه های تروریستی می باشد.

به نوشتهء سپنتا در مورد قصد حکومت افغانستان در مورد حکومت داری و فساد زیاد گفته شده است. بدون شک، تعداد از افراد فرصت طلب چه در داخل حکومت و چه بیرون از ساختار حکومت به مافیا اجازه داده اند تا وارد سیاست شوند. روی همین دلیل، نقش قانون ضیعف گردید.

عدم شفافیت در قرار داد ها و حضور شرکت های امنیتی قرار دادی که با مقامات مشخص ارتباط داشتند، بدون شک سبب فساد اداری و نا امنی شده است. ولی حضور تروریزم بین المللی در منطقه به دلیل فساد اداری در افغانستان نیست.

برتانیا، اسپانیا، ترکیه، چین، آلمان و هند قربانی فساد اداری در افغانستان نبوده اند، ولی قربانی تروریزم بین المللی شده اند که از منطقه سر چشمه می گیرد.

به نظر سپنتا محافظت مردم در قریه ها و شهر ها از شر تروریست ها مستلزم حاکمیت قانون و مبارزهء جدی علیه فساد اداری می باشد. ولی هیچ اقدام داخلی به تنهایی نمی تواند به طور کامل تهدید تروریزم بین المللی و ایده لوژی استبدادی جهانی را از بین ببرد.

به گفتهء سپنتا، نابود کردن زیر بنای تروریست ها جُز عمدهء استراتیژی جنگ علیه تروریزم است و این امر مستلزم مجادله با دولت های است که هنوز هم تروریزم را منحیث وسیلهء استراتیژیک سیاست خارجی خود، مورد استفاده قرار می دهند.

سپنتا همچنین نوشته است که افغانستان مخالف گسترش منازعه در سایر کشور ها است. ولی تلاش های جهانی در راستای مبارزه علیه تروریزم، نمی تواند به موفقیت بی انجامد، مگر این که دوست و دشمن این کشور مشخص شود.

جنگ افغانستان طولانی شده و مصارف هنگفت بالای شرکای بین المللی این کشور، تحمیل گردیده است. مردم افغانستان خسته شده اند، در عین حال افکار عامه جهانی بر ضد افغانستان شده است. به عقیدهء سپنتا، این موضوع قابل درک است، ولی یک چیز را نباید فراموش کرد، آن این که جنگ در یک نقطه تمرکز دارد، ولی دشمن در جای دیگر موقعیت دارد.

به نوشتهء سپنتا، مرد و زن قوای ایتلاف در جنگ افغانستان کشته می شوند. در عین حال، روزانه ده ها مرد و زن افغان در نتیجهء حملات تروریستی، به قتل می رسند. این در حالیست که برای تروریست ها ملیارد ها دالر کمک مالی می رسد.

در اخیر این مقاله سپنتا نوشته است که مردم افغانستان بیش از این آماده نیست تا قیمت محاسبه نادرست جامعهء بین المللی را بپردازد. متجاوزین فقط یک زبان را می دانند یعنی زبان زور و تصمیم. افغانستان و شرکای بین المللی قربانی تروریزم هستند. بناً جامعه بین المللی باید اتحاد واضح در بین این قربانیان ایجاد کند. به گفتهء سپنتا، حکومت قادر نیست تا مردم افغانستان را در شرایط سر در گمی و نامعلوم بر ضد حامیان تروریزم، بسیج کند.

### فاسد کسان له کابینې څخه لوړ ...

ورسره مبارزه کوي، یو قسمت فساد د افغانستان په سیاست والو کې ده چې هغوي له نړیوالو غیر مشروع قراردادونه تر لاسه کړي او یا هم دحکومت له مینځ څخه یې قرار دادونه په ناقانونه توګه تر لاسه کړي.

وحید عمر وویل چې له نړیوالې ټولنې سره به په ګډه د فساد پر ضد هغسې جګړه کوي لکه څرنګه چې یې د ترهګری سره روانه کړي ده.

همدا راز ښاغلي عمر په دغه خبري غونډه کې د افغان ولسمشر د سلاکار ضیا صالحي د نیولو په باب هم څرګندوي وکړي.

هغه وویل چې صالحي د لس زرو ډالرو رشوت په تور سهار وختي د دیرشو تنو وسله والو کسانو له لوري د کابل له مکرویانو سیمي څخه له خپل کور څخه په داسې حال کې وړل شوي چې په څنځیرونو تړل شوی وو او ټول حقوق یې تر پښو لاندې شوي ول.

هغه وویل چې صالحي هره یوه بله ورځ لوی څارنوالۍ ته د څیړنو لپاره ورځي.

یوه میاشت وړاندې د ولسمشرۍ د ریاست د ملي امنیت د مالي شورا مسول احمد ضیاصالحي د درنو جرمونو سره د مبارزې د اداري لخوا د لسو زرو ډالرو بډې اخیستنې په تور ونیول شو.

په داسې حال کې چې د کابل په ناسته کې د دولت ژمنه له فساد سره مبارزه وه خو یو شمیر شنونکي وايي چې دا لومړی ځل نه دی چې د ولسمشرۍ ماڼی د دولتي چارواکو د نیول کیدو سره مخالفت ښيي.

همدارنګه ویل کیږي چې یو کال وړاندې د کابل پخواني ښاروال عبدالاحد صاحبي هم د لویې څارنوالۍ له لوري تورن پیژندل شوی وو خو ولسمشر په ښکاره له ښاروال څخه دفاع وکړه. هغه مهال ولسمشر ویلي وو چې عبدالاحد صاحبي د فاسد چارواکو او مافیا د دسیسو ښکار شوی او تهمتونه پرې لګول شوي و، اوس د احمد ضیا صالحي په اړه هم ویل کېږي چې نوموړي ته دسیسه جوړه شوي ده.

حکومت وایي چې د افغان دولت له غاړې څخه یې د اقتصادي مافیا د لاس د لنډولو په موخه یو شمیر پروګرامونه تر لاس لاندې نیولي چې د شخصي امنیتي کمپنیو تړل یې پیلامه ده.

### د افغان ځواکونو له لیکو څخه ...

د جنرال کالډویل په وینا د افغان ځواکونو په سلو کې یوازې له ۱۴ تر ۱۸ پورې سرتېري باسواده دي ۱۶ ده، جنرال کالډویل د افغان ځواکونو له لیکو څخه د سرتېرو د تېښتې په اړه اندېښنه څرګنده کړه او ویې ویل:

"که موږ پوهېدای چې هغه کسان چې د افغان ځواکونو له لیکو څخه تېښتي چېرته ځي نو ښکاره ده چې موږ به د پوځ او پولیسو لیکو ته د دوي په بېرته راوستو کې له افغان چارواکو سره مرسته کړې وای. مقصد دا چې که رښتیا ووایم نو موږ نه پوهېږو چې دا کسان چېرته ځي او په افغانستان کې د دې خبرې معلومول ډېر سخت کار دی".

د افغانستان د ملي اردو او پولیسو د روزنې په پروګرامونو کې اوس مهال ۲۷ زره سرتېري شامل دي، خو مسوول چارواکي تمه لري چې دا شمېره به د ۲۰۱۱ کال تر جولای میاشتې پورې پنځوس زره ته ورسېږي.

جنرال کالډویل که څه هم یادونه وکړه، چې د افغان ځواکونو شمېره له وخته مخکې ټاکل شوې شمېرې ته ورسېده خو ویې ویل چې ځینې ډېرې مهمې برخې پاتې دي چې کار نه دی په کې شوی:

"موږ تر اوسه لا د افغان ملي اردو، پولیسو یا ان د هوایي ځواکونو تشکیلات نه دي بشپړ کړي. په حقیقت کې نور متممي ځانګې لکه لوژستیک، تعمیرات، ټرانسپورټ او استخبارات، یوهم تر اوسه نه دي جوړ او له هغو قواوو سره چې عملاً د جګړې په میدان کې دي همکاری ته نه دي برابر شوي".

د افغانستان د امنیتي ځواکونو شمېر دا وخت ۲۵۰ زره دی چې له دې ډلې ۱۳۴ زره د ملي اردو او پاتې یې په پولیسو کې دي، خو په پام کې ده چې د راتلونکي کال تر اکتوبر میاشتې پورې دا شمېره له درې سوه زرو واوړي.

### شمار تلفات نظامی فرانسه در ...

سارکوزي "رئیس جمهور فرانسه ضمن ابراز تأسف و تسلیت به خانواده این نظامي، بر قاطعیت کشورش براي ادامه مأموریت خود در بطن نیروهاي بین‌المللي کمک به امنیت افغانستان (ایساف) تأکید و اعلام کرد: "این نظامي جان خود را براي برقراري صلح و تأمین امنیت مردم افغانستان فدا کرد."

### سرباز اسیر شدهٔ امریکایی در ...

او همچنان در باره برخی جزئیات اسارت بیرگدال معلومات داد و گفت که او فقط از ترس سر بریدن دین اسلام را قبول کرده است.

میخواهیم یاداوری نمائیم که در دسمبر سال گذشته طالبان در یکی از سایت های خود فلم ویدیویی ثبت شده را نشان دادند که در ان بیرگدال به هموطنان خود در باره ازادسازی خود عذر میکند و میگوید که میخواهد به خانه خود در ایدهو بر گردد. او هوشدار میدهد که جنگ در افغانستان ارزش ان قربانی های که امریکایان متحمل میشوند ندارد. به عقیده سرباز، این جنگ همین اکنون از کنترول خارج شده و تهدید مبدل شدن به ویتنام ثانی در قبال دارد.

فلم ویدیویی قبلی حاوی درخواست بیرگدال عنوانی حکومت امریکا از طرف جنبش طالبان در ماه جولای منتشر گردید. نظامی امریکایی در فلم ۲۸ دقیقه یی ویدیویی خبر داد که افراد مسلح که او را به اسارت گرفته خروج نیروهای امریکا را از افغانستان مطالبه میکنند و گفت که او میخواهد به خانه خود بر گردد.

هیلاری کلینتون وزیر خارجه امریکا بعد از نشر این نوارهای ویدیویی اعلام داشت که واشنگتن هرانچه به او مربوط میگردد برای کشف و ازادسازی سرباز امریکایی که طالبان افغانستان به اسارت گرفته، انجام میدهد.

### کورنیو چارو وزارت د امنیتي ...

اود لویدیځو خبري اژانسونو د امنیت ساتلو چارې پر غاړه لري.

بل لور ته د افغانستان د کورنیو چارو وزارت ویلي د پولیسو په لیکو کې د هغو افرادو جذبولو ته چمتو دی چې دا مهال په خصوصي امنیتي کمپنیو په کار بوخت دي.

فرانس پریس وایي، د افغانستان ډیری خلک پر دغو امنیتي کمپنیو په خاصه توګه پر لویو لارو د هغوی د چلند او سرغړونو له امله انتقادونه کوي او ولسمشر کرزي ویلي، د دغو کمپنیو فعالیت د افغان امنیتي ارګاونو د کار مخې ته ستونزې جوړې کړې دي.

خو په عین حال کې په دې اړه اندېښنې هم موجودې دي او په داسې حال کې چې افغان پولیس په بشپړه توګه د اعتماد وړ نه دي د دغو کمپنیو د تړلو لپاره ټاکل شوې ضرب الاجل ډېر کم او له چیلینجونو ډک بلل شوی دی.

په عین حال کې د ناټو ځواکونو ویاند جنرال جوزف بلاټز ویلي، د ولسمشر کرزي له دې پریکړې هرکلی کوي خو د ده په وینا، د دې فیصلې په عملي کولو کې باید د مسالې وسعت او اندازه هم په پام کې ونیول شي.

جنرال بلاټز ویلي، ناټو اوس د ولسمشر کرزي پر فرمان غور کوي او وروسته به د دې پروسې د هم اهنګه کولو لپاره اقدام وکړي.

د ارګ له خوا په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي، چې د نړیوالو سازمانونو او بهرنیو سفارتونو استازي به د کورنیو چارو وزارت ته احضار کړای شي څو افغان مقامات ورته د دغې پروسې په اړه معلومات ورکړي.

### امریکا په افغانستان کې درې ...

خپرولو په ترڅ کې لیکلي چې دا پروژې د ۲۰۱۱ کال له نیمایي وروسته بشپړېږي چې د امریکا ولسمشر بارک اوباما له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د ایستلو پیل نېټه اعلان کړې ده.

ورځپاڼه وایي د دې خبرې مانا دا ده چې امریکا په افغانستان کې د اوږدې مودې لپاره پاتې کېږي.

د افغانستان په شمال او جنوب کې په دریو هوایي اډو د سلګونو ملیون ډالرو لګښت په دې هیواد کې د زیاتو شویو امریکایي پوځیانو او په راتلونکي کې د هغوی د عملیاتو د ملاتړ لپاره د امریکا د دفاع وزارت پلانونه ښيي.

د واشنګټن پوسټ امریکایي ورځپاڼې د راپور له مخې د افغانستان د جګړې په باب د ولسي ملاتړ له کمېدو او د اوباما له دې ژمنې سره سره چې د راتلونکي کال له جولایې به له افغانستانه د امریکایي پوځیانو په ایستلو پیل وکړي دا تاسیسات جوړېږي چې اکثره تر دې نېټې وروسته بشپړېږي.

د امریکا د دفاع وزارت له لوري په افغانستان کې درې هوایي اډې جوړېږي چې هیڅ یوه د ۲۰۱۱ کال ترنیمایي پورې نه بشپړېږي.دا درې واړه پروژې د افغان ځواکونو لپاره نه بلکې د امریکایي پوځیانو لپاره دي.

خو په مجموع کې د دغو پروژو لپاره دیارلس سوه ملیون ډالره غوښتل شوي چې باید کانګریس یې تصویب کړي.دا پیسې د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د امریکا له پوځي بودجې جلا دي.

د امریکا د مشرانو جرګې د تدارکاتو کمېټې دا پیسې تصویب کړي خو ټولې جرګې لا نه دي منظور کړي.

پر دې سربېره د پنټاګون په وینا د امریکا متحدو ایالتونو پنځه زره درې سوه ملیون ډالره د افغانستان د ملي اردو او ملي پولیسو د تاسیساتو لپاره ځانګړي کړي دي چې اکثره به یې په راتلونکو درو ترڅلورو کلونو کې جوړ شي.

په وروستیو کې په مزار شریف ښار کې د دېرش ملیون ډالرو په لګښت د پوځي روزنې د یوه سیمه ییز مرکزد جوړولو قرارداد لاسلیک شو.دا مرکز به هم د ۲۰۱۱ کال تر نیمایي پورې بشپړ نه شي.

خو درې هوایي اډې ،چې امریکا پر هرې یوې سل – سل ملیون ډالره لګوي، له ۲۰۱۱ وروسته بشپړېږي او د واشنګټن پوسټ په وینا ددې مانا دا ده چې په افغانستان کې به د امریکا حربي عملیات دوام کوي.

د امریکا دفاع وزارت په پام کې لري چې د افغانستان په لوېدیځ کې د سل ملیون ډالرو په لګښت د شینډنډ هوایي اډه پراخه کړي اوهلته د ځانګړو عملیاتي هیلي کوپټرو، بې پیلوټه الوتکو او کشافو الوتکو، همداراز د الوتکو د ساتنې او ترمیم تاسیسات جوړ کړي.دوی به د شپېتو پرسونلو لپاره بارکونه هم ودان کړي.

سل ملیونه نور به په هلمند کې د سمندري پلیو ځواکونود ډیور کمپ پرهوایي اډې ولګوي چې وزر لرونکي الوتکې او هیلي کوپترې پکې ځای پرځای شي.دا کمپ د خاصو ځواکونو د عملیاتو لپاره کلیدي اهمیت لري.

سل ملیونه نور د مزار شریف په هوایي اډې مصرفیږي چې د عملیاتو اړتیا پکې مخ په زیاتېدو ده.

### د امریکا په مشری د جګړې ...

یې هغو امریکایانو ته چې له امریکا بهر یې په جګړو کې برخه اخیستې د وینا په ترڅ کې دغه راز وویل، چې د ۲۰۱۱ کال په جولای میاشت کې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو پیل دا مانا نه لري چې، ګواکې امریکا له دې هېواده وځي بلکه هغه افغان امنیتي ځواکونو ته په تدریجي ډول د امنیتي چارو د مسولیتونو د سپارلو یو پیل دی.

جوبایډن زیاته کړه، په تېر وخت کې د افغانستان جګړه له پامه غورځول شوی وه او موږ یواځې په دې وروستیو کې د دې جګړې لپاره یوه روښانه ستراتیژي رامنځته کړې او په دې هېواد کې مو د ځواکونو شمېر کافي زیات کړی دی.

جوبایډن دغو پوځیانو ته په خبرو کې وویل، چې خلک باید داسې فکر ونه کړي موږ په افغانستان کې ناکام یو، موږ اصلا اوس پیل کړی ده، یو سم جنرال او کافي ځواکونه مو اهدافو ته د رسېدو لپاره ګمارل شوی دی.

د امریکا مرستیال ولسمشر د افغانستان د جګړې په اړه دا خوشبیني په داسې حال کې څرګندوي چې د سرتېرو د تلفاتو له زیاتېدو سره د امریکایانو ملاتړ له دغې جګړې مخ په کمېدو دی.